استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

ارواح شاد عبدالحی حبیبی

شنبه ۰۳ اگست ۲۰۲٤

# سره وبا

چي ګډه په وطن شوه سره وبا کلي په کلي
د خداي مسلمانان ئې کړل تبا کلي په کلي
مرګو ده را بللي، دي ددانو مرتدانو
سره کړه نامراديو د مرګ خوا کلي په کلي
اجل دي چي راوزي له توپو، له مشين ګنو
ځوانی دي رژولې دې بلا کلي په کلي
سپيره کړل بمباريو ودان کلي، شنه کښتونه
ټانکونو بورجلونه کړل بېديا کلي په کلي
بمونه شپه او ورځ اوري د روس له جهازونو
سرې ويني دي بهاندي شا و خوا کلي په کلي
ځنګلونه د دې پاکو غرو طعمه شوه د ناپالمو
ور تيري په دې اور کي پښتونخوا کلي په کلي
صرفه نه پر وړو، نه په زړو شته، نه په ښځو
کشتار دي، قتل عام دي برملا کلي په کلي
پراته دي ګام په ګام د شهيدانو په سرو وينو
لو ګډ د ژوندانه دي نن سبا کلي په کلي
د غوښو په خوراک ئې ځناور رسېداي نشي
هوا شوه له لاشونو څه خوسا کلي په کلي

salamwatanam@gmail.com

وطن شو سره بتۍ پکښي نښي دي د سرونو

ځوانان د پښتنو شوه نيمه خوا کلي په کلي

سرونه شول بې بيځ، ژوندونونه بې ارزښته

اوس ويني د سرو شولې وړيـــا کلي په کلي

سپکتيا وهل کوټل، بند و زندان، ژوبلي مرګونه

نصيب د خان، بداي، شيخ و ملا کلي په کلي

واړه يتيم يسير، ميرمني، کونډي، بوري وراري

کمبلي دي هـواري، د پاتا کلي په کلي

ښراوي دي، ژړاوي دي، چيغاري دي، کوکاري

سرې ساندي دي د بورو هره خـــوا کلي په کلي

تاړاک د چنګيزيانو مو اوس هېر شو، چي رالويږي

دا ټکي د خلقيانو له تنا کلي په کلي

په سيله به سلا او په وسـلو ئې وژل کيږو

پر روس مو ځکه پور ده خون بها کلي په کلي

موږ هم آخر بشر يو، د کريملين صـوبه دارانو!

پر څه مو پخپل ملک کي کړو تبا کـلي په کلي

د زوي زړه مو تر خوله شه موږ مو تپ په سره وبا کړو

پخپل وطن مو ګـډه شه وبا کلي په کلي

کانه مدعيان دي، د بشر د حق غـوښتلو

هيڅ نه اروي، دا زموږ د غم غوغا کلي په کلي

اې لويه قدير خدايه! دغه خواست مو ته قبول کړې

خلقيان د دې وطن کړې پو پنا کلي په کلي

salamwatanam@gmail.com